Washington State Hate Crimes
& Bias Incidents Hotline

د کرکې په اړه راپور ورکړئ.
ملاتړ ترلاسه کړئ.

# د کرکې په اړه راپور ورکړئ. ملاتړ ترلاسه کړئ.

کرکه او تعصب پر کسانو، کورنیو او ټولنو باندې ریښتیني اغېزې لري. Washington State Hate Crimes & Bias Incidents Hotline (د واشنګټن ایالت د کرکې جرمونو او تعصب پېښو د اړیکې کرښه) د هر هغه چا ملاتړ لپاره حاضره ده چې د کرکې عمل یې تجربه کړی وي یا یې شاهدان وي.

د اړیکې کرښه په ټول ایالت کې **وړیا او محرمه** مرسته وړاندې کوي. تاسو اړ نه یاست چې پر دې پوه شئ چې پېښ شوي څه جرم دي او که نه. موږ به له تاسو سره مرسته وکړو چې پر خپلو غوراویو پوه شئ.

## د اړیکې له کرښې سره اړیکه ونیسئ

855-225-1010

atg.wa.gov/report-hate

**په ډېرو ژبو کې شته دی**

# کله چې تاسو اړیکه نیسئ

## د اړیکې کرښه په لاندې مواردو له تاسو سره مرسته کولی شي:

- د کرکې جرم او تعصبي پېښې ترمنځ توپیر درک کړئ
- زده کړئ چې کوم غوراوي او سرچینې شته
- په خپله سیمه کې پر قربانیانو متمرکز، له کلتوري پلوه وړ او له صدمې یا بدې پېښې څخه باخبره خدمتونو سره اړیکه ټینګه کړئ.

که دا عمل مو په مستقیم ډول تجربه کړی وي یا یې شاهد وئ، تاسو کولی شئ له کرښې سره اړیکه ونیسئ.

## د Hate Crimes & Bias Incidents Hotline په اړه

**د اړیکې کرښه یوه غیر بېړنۍ معلوماتي کرښه او د راجع کولو ځای** دی چې د کرکې جرمونو او تعصب پېښو څخه اغېزمن شویو اشخاصو سره مرسته کوي تر څو ملاتړ ته لاسرسی ومومي. د اړیکې کرښه په څو ژبو کې شته او محرمه ده. د اړیکې کرښه یوازې هغه وخت له قانون پلي کوونکو سره اړیکه نیسي کله چې تاسو وغواړئ او ستاسو په رضایت سره دا کار کوي.

## څنګه راپور ورکړئ

855-225-1010

atg.wa.gov/report-hate

تاسو به له داسې چا سره وصل شئ چې ستاسو په ژبه خبرې کوي.

د اړیکې کرښه محرمه، وړیا او ستاسو د کډوالۍ وضعیت ته له پام پرته په ټول ایالت کې شتون لري. موږ پولیس نه یو او ستاسو له اجازې پرته پولیسو ته راپور نه ورکوو.

Washington State Office of the Attorney General (د واشنګټن ایالت د لوی څارنوال دفتر) لخوا چمتو شوی دی.

د اړیکې کرښه محرمه، وړیا او ستاسو د کډوالۍ وضعیت ته له پام پرته په ټول ایالت کې شتون لري. موږ پولیس نه یو او ستاسو له اجازې پرته پولیسو ته راپور نه ورکوو.

Washington State Office of the Attorney General (د واشنګټن ایالت د لوی څارنوال دفتر) لخوا چمتو شوی دی.

# Washington State Hate Crimes & Bias Incidents Hotline
# (د واشنګټن ایالت د کرکې جرمونو او تعصب پېښنو د اړیکې کرښه)




## د کرکې جرم څه دی؟

په واشنګټن کې د کرکې جرم کېدای شي له څو شیانو څخه یو وي. کېدای شي د بل چا پر وړاندې **ناوړه او قصدي تېری، د ملکیت زیان یا د تېري یا د ملکیت زیان ګواښ** وي.

### د کرکې جرم د هملغه کس د درک شوي یا حقیقي چلند له امله ترسره کیږي:

- نژاد
- رنګ
- دین
- نصب
- ملي اصل
- جسیت
- جنسي تمایل
- جنستي بیان یا هویت
- رواني، فزیکي یا حسي معلولیت

**په واشنګټن کې د کرکې له امله ترسره جرمونه جرم ګڼل کېږي** (RCW 9A.36.080).

## د تعصب پېښه څه ده؟

د تعصب پېښه د بل چا پر وړاندې د هغه لاندې درک شویو یا حقیقي مواردو پر بنسټ **له دښمنۍ ډکه څرګندونه** ده:

- نژاد
- رنګ
- عقیده یا دین
- نصب
- ملي اصل
- تابعیت یا د کډوالۍ وضعیت
- چنسیت
- په عزت سره رخصت شوي پوځي متقاعد یا نظامي وضعیت
- جنسي تمایل
- جنستي بیان یا هویت
- حسي، رواني یا فزیکي معلولیت
- د روزل شوي سپي لارښود یا خدمتي څاروي کارول

### د تعصب یوه پېښه د جرم کچې ته نه رسیږي.

**په بېلګو کې یې لاندې موارد شامل دي:**

- د درک شویو ځانګړتیاوو پر بنسټ له سپکاوي ډکه ژبه کارول.
- د نژاد پالنې یا سپکاوي ډکو انځورونو یا رسمونو جوړول.
- د یو چا معلولیت، کلتوري نورمونو یا کړنو ته سپکاوی کول.